امارت اسلامی افغانستان
اداره آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات

# هفته نامه
## مدیریت حوادث

شماره یکصد و پنجاه و چهارم
۱۹ الی ۲۴ ثور ۱۴۰۵




## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د هستوګنې لپاره د آغاخان مؤسسې ترمنځ د (۴،۱۹۱،۰۰۰) ډالرو په تولیز ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د هستوګنې لپاره د آغاخان مؤسسې له اجرائیوي رئیس، محترم راحت الله بیک، سلاکار عصمت الله عصمتي او د اړیکو مسؤل شکرالله مدني سره وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه...
د متن دوام (۵) پاڼې

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس د افغانستان لپاره د اوزبیکستان له سفیر سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د افغانستان لپاره د اوزبیکستان له سفیر محترم آیبک عثمانوف او د یاد هېواد د سفارت له اقتصادي او سیاسي مرستیال ښاغلي بهادر سره وکتل او د بشري مرستو او د پېښو د مدیریت په اړه یې خبرې وکړې...
د متن دوام (۵) پاڼې





## د پېښو چارو د انسجام معین په شتون کې د کابل ښار په بېلابېلو غرنیو سیمو کې د هغو ډبرو چې د ښویېدو امکان یې شتون درلود، سروې وشوه

د ۲۲/۱۱/۱۴۴۷ هـ ق نېټې څخه تر ۲۶/۱۱/۱۴۴۷ هـ ق نېټې پورې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري د پېښو چارو د انسجام معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، د خطر د مخنیوي او کمولو رئیس، محترم حاجي اختر محمد خادم،...
د متن دوام (۶) پاڼې



## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام (UNDP) د اقلیم د بدلون د پورتفولیو له مشر سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام (UNDP) د اقلیم د بدلون د پورتفولیو له مشر محترم سرګي والکوف...
د متن دوام (۶) پاڼې

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د اسلامي هوسايني مؤسسې ترمنځ د (۲۵۶،۸۳۸) ډالرو په تولیز ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د اسلامي هوسايني مؤسسې د پروګرامونو له مسئول، نعمت‌الله اکبري سره وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په دې ناسته کې، محترم ترابي صاحب د یادې مؤسسې مسئولین د پروژې د باکیفیته تطبیق لپاره لا ډېرې پاملرنې ته وهڅول او ویې ویل، څرنګه چې دا پروژه د قربانۍ غوښې لپاره ځانګړې شوې، نو باید هڅه وشي چې قرباني په هغو سیمو کې حلاله شي چې خلکو ته پکې د وېش پلان شتون لري، ترڅو خلک له تازه غوښې څخه ګټه واخلي.

ورته مهال، د یادې مؤسسې د پروګرامونو مسئول، نعمت‌الله اکبري، د رواني پروژې د تشریح ترڅنګ، د پروژې د ښه تطبیق ژمنه وکړه او ویې ویل چې د اداري د مشرتابه سپارښتنې به په راتلونکو پروژو کې په پام کې ونیسي

په پای کې د دواړو لورو ترمنځ د دوه لکه او شپږ پنځوس زره او اته سوه او اته دېرش (۲۵۶،۸۳۸) ډالرو په تولیز ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه، چې له مخې به یې یاده مؤسسه د بامیان ولایت ۱۷۷۵ کورنیو، د کندهار ولایت ۱۰۵۵ کورنیو او د غور ولایت ۳۲۰ کورنیو ته د قربانۍ غوښه ووېشي؛ په دې ډول چې په دې پروسه کې د هرې کورنۍ برخه ۵ کیلوګرامه تازه غوښه ده.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د APBHO مؤسسې ترمنځ د (۷۴،۰۲۱) ډالرو په تولیز ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د APBHO مؤسسې له مرستیال، محترم احسان‌الله صابري سره وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په دې لیدنه کې، محترم ترابي صاحب د ګډو همکاریو پر اهمیت، د پروژو په پلي کولو کې پر شفافیت او د اړمنو کورنیو اړتیاوو ته پر ځانګړې پاملرنې خبرې وکړې او ټینګار یې وکړ، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداره به د ملي او نړیوالو مؤسسو په همکارۍ پروژې پر وخت او اغېزناک ډول پلي کړي.

همدارز، د APBHO مؤسسې مرستیال، محترم احسان‌الله صابري د دې اداري له همکاریو مننه وکړه او د رواني پروژې په اړه د معلوماتو وړاندې کولو ترڅنګ یې ژمنه وکړه، چې د پروژې د پلي کولو بهیر به په چټک او شفاف ډول ترسره شي.



په پای کې، د دواړو لورو ترمنځ د څلور اویا زره او یوویشت (۷۴،۰۲۱) ډالرو په تولیز ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه.

د یادې تفاهم‌نامې له مخې، یاده مؤسسه به د میدان وردګ ولایت ۲۸۵ سیلاب ځپلو کورنیو هرې یوې ته ۱۵۶ ډالر نغدي مرسته او یوه روغتیایي بسته ووېشي.

## د کابل ولایت په بګرامي ولسوالۍ کې له تېرو جګړو پاتې شوی یوه کړی ۱۰۰ کیلویي بم کشف او په خوندي ډول خنثی شو



د کابل ولایت د بګرامي ولسوالۍ په مربوطاتو کې له تېرو جګړو پاتې یوه کړی ۱۰۰ کیلویي بم، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ ریاست له لوري، د هلوټرسټ ماین پاکۍ مؤسسې د تخنیکي ټیم په همکارۍ، په خوندي ډول کشف او خنثی شو.

په همدې تړاو، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ رئیس، محترم قاري نورالدین رستم‌خېل، له تخنیکي ټیمونو سره سیمې ته تللی و او د بم د کشف، انتقال او خنثی کولو له عملیاتو څخه یې څارنه وکړه.

محترم قاري نورالدین رستم‌خېل وویل، دغه بم د ماین پاکۍ بېړنۍ شمېرې ته له اړیکې وروسته، د حاجي منجي ښارګوټي په یوه هستوګنیزه سیمه کې د کیندنې پر مهال کشف شو. نوموړي زیاته کړه، چې یاد بم د تېرو جګړو له پاتې بمونو څخه و او د ګڼ مېشتې هستوګنیزې سیمې له امله یې د خلکو ژوند او شتمنیو ته جدي خطر پېښ کړی و، خو د تخنیکي ټیمونو د چټک اقدام او همغږۍ له امله په خوندي ډول له سیمې انتقال او خنثی شو.

د هلوټرسټ مؤسسې د تخنیکي مسئولینو په وینا، دغه بم د OFAB ۱۰۰/۱۲۰ ډوله الوتکي بم و، چې ټول وزن یې ۱۰۰ کیلوګرامه او د چاودېدونکو توکو اندازه یې شاوخوا ۴۲ کیلوګرامه وه. همداراز د بم فیوز فعال و او د احتمالي خطرونو د مخنیوي لپاره د سیمې د خوندي کولو په موخه له ۳۲۰۰ څخه ډېرې د شګو بورۍ کارول شوې وې. وروسته له دې چې فیوز ترې وایستل شو، بم یوې خوندي سیمې ته انتقال او له منځه یووړل شو.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ ریاست ټینګار کوي، چې د ماینونو او ناچاوده توکو د پاکولو هڅې به د ماین پاکۍ مؤسسو په همکارۍ دوام ولري، ترڅو د احتمالي مرګ ژوبلې او زیانونو مخه ونیول شي.

همداراز، له ټولو هېوادوالو غوښتنه کېږي، چې که هر ډول شکمن توکي او چاودېدونکي مواد وویني، نو د ماین پاکۍ بېړنۍ شمېرې له لارې دې د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ ریاست سره اړیکه ونیسي، ترڅو تخنیکي ټیمونه په چټک او خوندي ډول اقدامات ترسره کړي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري اوونیزه اداري غونډه ترسره شوه



د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶ نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري اوونیزه اداري غونډه د دې اداري د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزي رئیسانو په ګډون د دې اداري په انګړ کې ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجندا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې  داجندا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د افغان خلکو د ټولنیزو خدمتونو مؤسسې (APSSO) ترمنځ د (۴۳۰،۳۶۴) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د APSSO مؤسسې له رئیس، محترم محمود شاه نوري، سره په خپل کاري دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.
محترم ترابي صاحب وویل، اړینه ده چې ټولې مؤسسې خپلې مرستې ژر تر ژره مستحقو خلکو ته ورسوي، ترڅو زیانمنې کورنۍ وکولای شي پر وخت له اړینو توکو څخه ګټه واخلي.
هغه همدارازټینګار وکړ چې مرستې، که لږې وي او که ډېرې، باید اغېزمنې، اساسي او پر مناسب وخت مستحقو کورنیو ته ووېشل شي.
له بلې خوا، د APSSO مؤسسې رئیس، محترم محمود شاه نوري، د دې اداري له همکاریو مننه وکړه او د رواني پروژې په اړه د معلوماتو وړاندې کولو ترڅنګ یې ژمنه وکړه چې د پروژې پلي کولو بهیر به یې په شفاف او چټک ډول ترسره شي.
په پای کې، د دواړو لورو ترمنځ د څلور لکه او دېرش زره او درې سوه او څلور شپېته (۴۳۰،۳۶۴) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه.
د دې تفاهم‌نامې له مخې، یاده مؤسسې به د کابل ولایت ۳۰۰۰ کورنیو، د کندهار ولایت ۸۰۰ کورنیو، د هرات ولایت ۸۰۰ کورنیو او د ننګرهار ولایت ۱۰۰۰ کورنیو ته د ۱۱ قلمه توکو لرونکي د ژمنیو جامو یوه بسته ووېشي.

## په کاپیسا ولایت کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري د رضاکارانو ټیم جوړ او فعال شو



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په لارښوونه، د هېواد په ولایتونو کې د رضاکارانو د ټیمونو د فعالولو بهیر دوام لري. په همدې لړ کې، د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د رضاکارانو ټیم هم فعال شو.
د رضاکارانو د ظرفیت لوړولو په موخه، د اداري مرکزي پلاوی، چې د پېښو د مدیریت معلوماتي ملي سیستم (NDMIS) آمر او د رضاکارانو د پروګرام مسئول، سمیع‌الله حیات او د ارزونې او څارنې آمر، فیض‌محمد آغا پکې شامل وو، کاپیسا ولایت ته سفر وکړ او له ولسوالیو او ښاري ناحیو څخه ټاکل شویو د رضاکارانو لپاره یې یو ورځنۍ روزنیز پروګرام ترسره کړ.
په دې پروګرام کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري پر موخو او رول، د رضاکارانو د پروګرام پر اهمیت او د رضاکارانه فعالیتونو د تنظیم او پلي کولو پر څرنګوالي معلومات وړاندې شول. همدارنګه، د دې پروګرام طرزالعملونه او کاري لارښوونې ګډونوالو ته تشریح شوې.
په پای کې، رضاکاران د کاري ژمن‌لیک له لاسلیک وروسته د اداري له لوري وستایل شول او هغه ډالۍ چې له مخکې په پام کې نیول شوې وې، هغوی ته ووېشل شوې. دغه پروګرام د روزنو پر دوام او د رضاکارانو د ظرفیت پر لوړولو په ټینګار سره پای ته ورسېد.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د هستوګنې لپاره د آغاخان مؤسسې ترمنځ د (۴،۱۹۱،۰۰۰) ډالرو په ټولیز ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه

محترم ترابي صاحب په دې ناسته کې د آغاخان مؤسسې له همکاریو مننه وکړه او ویې ویل، د موجودو پروګرامونو له مخې، د بشري مرستو ترڅنګ د اداري تمرکز تر ډېره پر بنسټیزو، وقایوي پروژو او د اړینو برخو پر تجهیز دی، څو له دې لارې د طبیعي پېښو پر وړاندې د خلکو د زیان‌منتیا کچه راکمه شي.
ورته مهال، د هستوګنې لپاره د آغاخان مؤسسې اجرائیوي رئیس د خپلو خبرو په پیل کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري له رئیس او ټولو کارکوونکو څخه مننه او قدرداني وکړه او ویې ویل، موږ د دې اداري له هر اړخیزو همکاریو څخه په بېلابېلو برخو کې په صمیمانه ډول مننه‌وي یو او تل به هڅه وکړو چې له دې اداري سره په بشپړې همغږۍ خپلې مرستې اړمنو خلکو ته ورسوو.
نوموړي همدارازه زیاته کړه چې د دې اداري د رهبرۍ له اساسي اصولو څخه یو هم پېښو ته پر وخت رسېدنه او د بېړنیو حالاتو پر وړاندې بشپړ چمتووالی دی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس د افغانستان لپاره د اوزبیکستان له سفیر سره وکتل

محترم ترابي صاحب په پیل کې د اوزبیکستان پلاوي ته ښه راغلاست وویل او څرګنده یې کړه چې دواړه هېوادونه د دیني، فرهنګي او جغرافیایي اړخونو له پلوه ډېرې ګډې ځانګړتیاوې لري او د دواړو هېوادونو اړیکې باید د وروروله‌ۍ او دوستۍ په فضا کې لا دوام ومومي. هغه د اوزبیکستان د بشري مرستو له امله مننه وکړه او ویې ویل چې د اقلیمي بدلونونو له امله د طبیعي پېښو کچه او د افغانستان پر خلکو یې منفي اغېزې زیاتې شوې دي او دې موضوع د اړتیاوو کچه هم لوړه کړې ده.
د اداري محترم لوی رئیس زیاته کړه، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداره په هېواد کې د پېښو مدیریت د مسوولې اداري په توګه فعالیت کوي او د زیانمنو لپاره د مرستو د ترلاسه کولو او وېش بهیر د دې اداري له اساسي دندو څخه دی. هغه همدارنګه ټینګار وکړ چې ټولې هغه مرستې چې د مرستندویه هېوادونو له لورې دې اداري ته سپارل کېږي، په شفاف، چټک او منظم ډول ۳۴ ولایتونو ته لېږدول کېږي او مستحقینو ته وېشل کېږي.
په همدې حال کې، د اوزبیکستان سفیر محترم آیبک عثمانوف دواړه هېوادونه ښه ګاونډیان او د سختو ورځو دوستان وبلل او ویې ویل چې هېواد یې د پېښو پر مهال د افغانستان خلکو ته بشري مرستې وړاندې کړې دي. هغه زیاته کړه چې د اوزبیکستان مرستې د افغانستان د ټولو خلکو لپاره دي او دوی په ناوړه شرایطو کې او د پېښو پر مهال د همکاریو او بشري مرستو د زیاتوالي لارې چارې ارزوي.
د اوزبیکستان محترم سفیر د دوه اړخیزو همکاریو پر دوام ټینګار وکړ او د پېښو پر مهال یې د بشري مرستو د وړاندې کولو لپاره د خپل هېواد چمتووالی اعلان کړ.
په پای کې دواړو لورو د دوستانه اړیکو او ګډو همکاریو پر پراختیا ټینګار وکړ او یو بل ته یې ډالۍ‌هم ورکړې.

## د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱،۳۰۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د ASIO مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه‌لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د دې ولایت په جلګه ولسوالۍ کې ۱،۳۰۰ مستحقو کورنیو ته تر سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو اوړه، ۴.۵ لیتره غوړي، ۶.۵ کیلو دال او نیم کیلو مالګه ووېشل شوه.

## د پېښو چارو د انسجام معین په شتون کې د کابل ښار په بېلابېلو غرنیو سیمو کې د هغو ډېرو چې د ښوییدو امکان یې شتون درلود، سروې وشوه

د کابل ولایت پېښو ته د رسېدنې آمر، مولوي محمد حنیف همدرد، د څېړنې او مطالعاتو آمر محمد مجتبی افضلي، د پېښو د تحلیل او ارزونې کارپوه انجنیر الله داد قرلق، د پېښو خطرونو د مخنیوي او اغېزو کمولو کارپوه انجنیر جلال الدین جمالي، د عامه پوهاوي کارپوه انجنیر صابر احمد ملک زاده، د عامه پوهاوي ویډیو کلیپونو ترتیب کوونکی عطا محمد معمار زاده او کمرەمین رحمن الله رحماني په ګډون یو تخنیکي، مسلکي او تجربه لرونکي ټیم د کابل ښار د لومړۍ ناحیې اړوند د چنداول قلعه هزاره ها، خواجه صفا، باغ قاضي، سنګ کشانو او شهدای صالحین غرنیو سیمو ته سفرونه ترسره کړل او د هغو لویو ډېرو سروې یې وکړه چې د ښوییدو له امله یې د خلکو ژوند او هستوګنیز کورونه له جدي خطر سره مخ کړي وو.

د ترسره شویو سروې ګانو پر مهال ټولټال ۱۰۸ خطرناکې ډېرې سروې شوې، چې په کې د چنداول قلعه هزاره ها په سیمه کې ۱۱ ډېرې، د خواجه صفا او باغ قاضي په سیمو کې ۱۳ ډېرې، د سنګ کشانو او شهدای صالحین په سیمو کې ۲۷ ډېرې، بیا ۳۱ ډېرې او په وروستۍ سروې کې ۲۶ ډېرې شاملې وې.

د پېښو چارو د انسجام معین د سیمو له اوسېدونکو سره په لیدنو کې وویل، چې په کابل ښار او د هېواد په نورو ولایتونو کې د هغو ډېرو د ویجاړولو لړۍ دوام لري چې د خلکو ژوند ګواښي، او مسؤلینو ته یې لارښوونه وکړه چې د خطر کمولو او ویجاړولو پر مهال دې د سیمې خلکو ته د احتمالي زیان د مخنیوي لپاره جدي پاملرنه وکړي.

همدارنګه د خطر د مخنیوي او کمولو رئیس د یادو پروژو په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل، چې هر هغه ځای کې چې د خلکو ژوند له ورته خطرونو سره مخ وي، د اداري تخنیکي او مسلکي ټیمونه چمتو دي څو یاد خطرونه له منځه یوسي او د سیمو د خوندي کولو چارې پر مخ یوسي.

په همدې حال کې د یادو سیمو اوسېدونکو او د خلکو استازو د دغو سروې ګانو او د خطر کمولو د اقداماتو هرکلی وکړ او ویې ویل، چې ګڼ شمېر کورونه او عامه تأسیسات د دغو ډېرو تر جدي ګواښ لاندې وو، خو اوس د خوندي کولو بهیر پیل شوی چې دوی یې ستاینه کوي.

د یادونې وړ ده، چې د دې ډول خطرناکو ډېرو د سروې، تخریب او خطر کمولو چارې د پلان له مخې په منظم ډول د کابل ښار او د هېواد په نورو ولایتونو کې دوام لري.

## له پېښو سره د مبارزې اداري آمادګۍ لوی رئیس د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام (UNDP) د اقلیم د بدلون د پورتفولیو له مشر سره وکتل

او تخنیکي ارشد سید آصف محمدي سره وکتل او د اقلیمي بدلونونو او د طبیعي پېښو د مدیریت په اړه یې خبرې وکړې.

په پیل کې، محترم ترابي صاحب راغلي پلاوي ته ښه راغلاست وویل او زیاته یې کړه، موږ ډېر خوښ یو، چې له داسې یو ملګري سره ناسته لرو چې هغه د طبیعي پېښو د مدیریت برخه کې زیاته تجربه لري او له هغه سره یې د دې اداري د موخو، د ولس د لومړیتوبونو او اړتیاوو په اړه خبرې وکړې، همدارنګه ترابي صاحب له راغلي پلاوي څخه د ظرفیت لوړولو برخه کې د همکارۍ کولو غوښتنه وکړه، ترابي صاحب وویل، چې موږ مستحقو کورنیو ته د خوراکي، غیر خوراکي او نغدي مرستو سر بېره وقایوي پروژې ترسره کوو، چې تر ډېره مو پاملرنه هم د زیربنایي پروژو د پلي کولو برخې ته ده.

همداراز محترم ترابي صاحب، له راغلي پلاوي څخه د هغوی د پروژو د پر وخت پلي کولو غوښتنه وکړه او هغوی ته یې له خپله اړخه د پروژو د پلي کولو برخه کې د هر ډول همکاریو د کولو ژمنه وکړه.

وروسته، د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام (UNDP) د اقلیم د بدلون د پورتفولیو مشر محترم سرګې الکوف له محترم ترابي صاحب څخه د وخت ورکولو له امله مننه وکړه او له دې اداري سره یې د خپلو ښو اړیکو ستاینه وکړه، نوموړي ټینګار وکړ، چې دوی به خپلې پروژې پر وخت او مناسبو ځایونو کې ترسره کوي، همدارنګه هغه وویل، چې د زیربنایي پروژو د پلي کولو لپاره مسلکي کسانو ته اړتیا ده، چې دوی به له دې اداري سره په دې برخه کې خپلې همکارۍ ترسره کوي.

په پای کې، دواړو لوریو د دوه اړخیزو همکاریو په ښه والي او لا پیاوړتیا ټنګار وکړ.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د اروپايي ټولنې د ملکي خونديتوب او بشري مرستو د عملياتو (ECHO) ترمنځ تخنيکي غونډه وشوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د اروپايي ټولنې د ملکي خونديتوب او بشري مرستو د عملياتو (ECHO) د ټيمونو ترمنځ تخنيکي غونډه، د رضاکارانو د جذب او روزنې پروګرام د برياليتوب د کچې ارزونې، د دې پروګرام د پراختيا او پرمختيا لارو چارو د څېړنې او همدارنګه د دې اداري د بېړنيو اړيکو د مرکز د پياوړتيا په موخه ترسره شوه.

په دې غونډه کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري مسؤلينو د رضاکارانو د پروګرام د فعاليتونو او لاسته راوړنو په اړه مفصل معلومات وړاندې کړل او ټينګار يې وکړ چې رضاکار ټيمونه کولای شي په ډېرو پېښو او بېړنيو حالاتو کې د عامه پوهاوي، همغږۍ او لومړنيو مرستو رسولو په برخو کې اغېزناک او چټک رول ولوبوي.

همدارنګه، په دې غونډه کې د رضاکارانو د ظرفيت لوړولو، د تخصصي روزنو د برابرولو او په زيان‌منونکو سيمو کې د دې پروګرام د فعاليتونو د پراخولو په اړه هم خبرې وشوې.

د غونډې بله برخه د بېړنيو اړيکو د مرکز د فعالولو د بهير ارزونې ته ځانګړې شوې وه، چې پکې د همغږۍ پر ښه والي او د پېښو د رامنځته کېدو پر مهال د ځواب وينې د بهير پر چټکتيا ټينګار وشو.

په پای کې، د اروپايي ټولنې د ملکي خونديتوب او بشري مرستو د عملياتو (ECHO) استازو د رضاکارانو د پروګرام له مثبتو پايلو خوښي څرګنده کړه او د دې پروګرام د لا پياوړتيا او پراختيا په موخه يې د همکاريو پر دوام ټينګار وکړ.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر برای ۷۰۰ خانواده بی‌جاشده داخلی کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر، پس از سروی، برای ۷۰۰ خانواده بی‌جاشده داخلی در ولسوالی سرکانو آن ولایت که به دلیل جنگهای اخیر متضرر شده‌اند، کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود.

در این روند، با حضور مسئولین به هر خانواده ۱۰ لیتر روغن، ۸ کیلو ماکارونی، ۵ کیلو پودر لباس‌شویی، یک بسته البسه، یک تخته ترپال و یک کارتن خرما توزیع گردید.







## د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په نرخ ولسوالۍ کې د وروستیو ورښتونو او سیلابونو له امله ۸۵ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې ووېشلې.

په دې لړ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، ۳ کیلو بوره، ۱ عدد صندوق، د یونیسف مؤسسې توکړ، ۱ عدد څراغ ووېشل شول.

# د ماین‌پاکۍ پروګرام د اوسني وضعیت او د مالي ملاتړ د پیاوړتیا لارو چارو د ارزونې په اړه تحلیلي غونډه وشوه

د ماین‌پاکۍ پروګرام د اوسني وضعیت د څېړنې، د شته ننګونو او اړتیاوو د ارزونې په موخه، تېره ورځ د ماین‌پاکۍ د انسجام او همغږۍ ریاست په دفتر کې یوه مهمه غونډه ترسره شوه. په دې غونډه کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري د بهرنیو اړیکو رئیس، محترم حافظ مولوي عبدالرحمان رحماني، د ملي او نړیوالو بنسټونو استازو، د همکارو مؤسسو مسئولینو او یو شمېر اړوندو شخصیتونو ګډون کړی و او په هېواد کې د ماین‌پاکۍ بهیر اړوند مهمو موضوعاتو په اړه یې بحث او د نظرونو تبادله وکړه.

د دې غونډې اساسي موخه د ماین‌پاکۍ پروګرام د اوسني وضعیت تحلیل، د مالي مرستو د زیاتوالي لارو چارو څېړنه، د شته ننګونو لپاره د مناسبو حل‌لارو موندل او همدارنګه د هلوټرسټ مؤسسې د رئیس، ډاکټر فرید همایون، د مخه‌ښې مراسم ترسره کول وو.

په دې ناسته کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري د بهرنیو اړیکو رئیس، محترم حافظ مولوي عبدالرحمان رحماني وویل، چې د پروګرامونو د پلي کېدو د چټکتیا په موخه به هوکړه لیکونه په مناسب وخت کې لاسلیک شي، ترڅو د کار بهیر په لا زیاته چټکتیا او همغږۍ سره پرمخ ولاړ شي.

هغه همدارازد ناستې ګډونوالو ته په خطاب کې ټینګار وکړ چې د افغانستان د اسلامي امارت واقعي او حقیقي انځور باید نړیوالې ټولنې ته وړاندې شي، او بشردوستانه موضوعات باید له سیاسي مسایلو سره ونه تړل شي.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري د بهرنیو اړیکو رئیس، په خپلو خبرو کې د ماین‌پاکۍ پر اهمیت ټینګار وکړ او ویې ویل چې افغانستان د تېرو څلورو لسیزو په اوږدو کې د ماینونو او ناچاودو توکو له شتون څخه، چې د پټو او خاموشه دښمنانو په توګه پېژندل کېږي، سخت زیان لیدلی او د هېواد پراخې سیمې لا هم په ماینونو ککړې دي.

ورپسې، ګډونوالو د ماین‌پاکۍ د روانو فعالیتونو، د مالي مرستو د کمښت او د خلکو د اړتیاوو د زیاتوالي په اړه هر اړخیز بحثونه وکړل. ګډونوالو د بېلابېلو نظرونو او وړاندیزونو په وړاندې کولو سره د کاري بهیر پر ښه‌والي، د اړوندو ادارو ترمنځ د همغږۍ پر پیاوړتیا او د ماین‌پاکۍ فعالیتونو پر چټکتیا ټینګار وکړ.

په غونډه کې حاضرو مسئولینو د اسلامي امارت، خصوصي سکتور، مرسته‌کوونکو هېوادونو او نړیوالو بنسټونو له لوري د مالي سرچینو جذب د ماین‌پاکۍ پروګرامونو د دوام او بریالیتوب لپاره حیاتي وباله او د مسئولینو ترمنځ ګډه همکاري او دوامداره همغږي یې د دغو پروګرامونو د اغېزمن پرمختګ له اساسي لاملونو څخه یاد کړل.



د غونډې په دویمه برخه کې، د هلوټرسټ مؤسسې د رئیس، ډاکټر فرید همایون، د مخه‌ښې مراسم ترسره شول. ګډونوالو د نوموړي د همکاریو، هڅو او خدمتونو ستاینه وکړه او د ماین‌پاکۍ اړوندو پروګرامونو په پرمختګ کې یې د هغه رول اغېزناک، ارزښتناک او د ستاینې وړ وباله.

د غونډې په پای کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، له لوري ډاکټر فرید همایون ته ډالۍ او ستاینلیک وړاندې شول او د هغه له خدمتونو او همکاریو څخه په رسمي ډول مننه او قدرداني وشوه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس په کابل کې د ټیکا د دفتر له رئیس سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په کابل کې د ټیکا د دفتر له رئیس، محترم میکائیل تاسد یمیر او د دغه دفتر له سکرتر خالد تاج سره په خپل کاري دفتر کې وکتل او خبرې یې وکړې.

په دې ناسته کې محترم ترابي صاحب د ټیکا دفتر د بشري مرستو او د دې اداري د کارکوونکو د ظرفیت لوړونې په برخه کې له همکاریو څخه د مننې ترڅنګ وویل، چې د اداري د دندو او مسئولیتونو له مخې، د هیوادونو، مؤسسو او همکارو سازمانونو له لوري وړاندې شوې مرستې په شفاف ډول د افغانستان ټولو ولایتونو ته لېږدول کېږي او زیانمنو او مستحقو کسانو ته وېشل کېږي.

هغه زیاته کړه، موږ هڅه کوو چې د بهرنیو چارو وزارت له لارې د ظرفیت لوړونې او همغږۍ د پیاوړتیا په برخه کې د ترکیې د طبیعي پېښو اداري سره د همکاریو او تجربو د تبادلې زمینه برابره کړو.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس ټینګار وکړ، چې ملي او نړیوالو مؤسسو او سازمانونو ته لازمي اسانتیاوې برابرې شوې دي، څو وکولای شي د جغرافیایي موقعیت، مذهب او ژبې له توپیر پرته، په ټول افغانستان کې خپل فعالیتونه ترسره کړي، او دې اداري تل له هغوی ملاتړ کړی دی.

هغه همداراز له ټیکا دفتر څخه وغوښتل، چې د پېښو مدیریت او د دې اداري د کارکوونکو د ظرفیت لوړونې په برخو کې خپلو همکاریو ته دوام ورکړي.

له بلې خوا، په کابل کې د ټیکا دفتر رئیس، محترم میکائیل تاسد یمیر، د بغلان ولایت له سیلاب ځپلو سره د خپل دفتر د مرستو یادونه وکړه او ویې ویل، چې ټیکا د بېړنیو مرستو او په نورو اړونده برخو کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري سره همکارۍ او همغږۍ ته چمتو ده.

په پای کې، دواړو لورو د نږدې همغږۍ او همکاریو پر پیاوړتیا ټینګار وکړ او د همکاریو د دوام لپاره یې ګډه ژمنتیا څرګنده کړه.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پکتیکا در ولسوالی دیله کار پروژه جغل‌اندازی یک سرک چهار کیلومتری را آغاز کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پکتیکا، با حمایت مالی موسسه AYSO، کار پروژه جغل‌اندازی سرکی به طول ۴ کیلومتر از منطقه بازار نو تا نظام‌خیل در ولسوالی دیله آن ولایت را رسماً آغاز کرد.

کار این پروژه با حضور محترم حاجی قاری عبدالهادی، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث و مسئولان محلی آغاز شد. هدف از این پروژه فراهم‌سازی سهولت در رفت‌وآمد مردم و رسیدگی به مشکلات آنان در زمان مناسب عنوان شده است.

باشندگان محل از این پروژه استقبال کرده و از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه AYSO ابراز سپاس و قدردانی نمودند.



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر برای ۳۶۷ خانواده بی‌جا شده مساعدت‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر، برای ۳۶۷ خانواده بی‌جا شده ناشی از درگیری‌های اخیر در آن ولایت، پس از انجام سروی در ولسوالی منوره، مساعدت‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.
در این روند، به حضور مسئولین، برای هر خانواده ۱ بسته آشپزخانه، ۱ بسته البسه، ۱ چراغ دستی، ۱ تخته ترپال و ۱ کارتن خرما توزیع گردید.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غور برای ۱۲۶ خانواده آسیب‌دیده از سیلاب کمک‌های غذایی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه امضاء شده میان اداره آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه CRDSA که تمویل‌کننده این پروژه برنامه جهانی غذا (WFP) می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غور با همکاری تخنیکی این مؤسسه، پس از سروی، برای ۱۲۶ خانواده آسیب‌دیده از سیلاب‌های اخیر در ولسوالی چهارسده آن ولایت کمک‌های غذایی توزیع کرد.
در این روند، با حضور مسئولان، به هر خانواده ۱۰۰ کیلو آرد، ۱۲.۵ کیلو نخود، ۹.۱ کیلو روغن و ۱ کیلو نمک توزیع شد.
خانواده‌های دریافت‌کننده کمک‌ها از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسات همکار به خاطر توزیع به‌موقع کمک‌ها ابراز قدردانی و خوشحالی کردند.

## د بلخ ولایت له پېښو سره مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۳۹ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت مقام په لارښوونه، د دې ولایت د مزار شریف ښار بېلابېلو ناحیو او ولسوالیو اړوند ۱۳۹ مستحقو کورنیو ته تر سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم او ۱ کارتن بسکیټ ووېشل شول.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۱۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو د مبارزې آمادګۍ اداري او د بشر د حقوقو، آزادۍ او بشري مرستو موسسې (IHH) ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د دې ولایت د بېلابېلو ولسوالیو او مرکز اړوند ناحیو اړوند ۳۱۰ مستحقو کورنیو ته تر سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې بهیر هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو اوړه، ۵ لیتره غوړي، ۴ کیلو لوبیا، ۴ کیلو بوره، ۱.۶ کیلو مالګه او ۸۰۰ ګرامه مکروني ووېشل شوه.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وروستیو وربښتونو له امله ۱۵۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له درمان مؤسسې سره په یو ګډ اقدام کې، د کابل ولایت د بېلابېلو ولسوالیو او ناحیو اړوند ۱۵۰ کورنیو ته چې د وروستیو وربښتونو له امله زیانمنې شوې وې، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوي محمد نجیب الله انوري، د مرستو د وېش په پروګرام کې له زیانمنو کورنیو سره د خواخوږي څرګندولو ترڅنګ وویل، چې د اداري د مشرتابه د لارښوونې پر بنسټ نن ورځ د شته امکاناتو او د درمان مؤسسې په همکارۍ ۱۵۰ زیانمنو کورنیو ته مرستې وېشو او ان‌شاءالله دا لړۍ به د پخوا په څېر دوام ولري.

د یادونې وړ ده چې په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته یوه بوره ۵۰ کیلویي اوړه، ۵ لیټره غوړي، ۲۰ کیلو وریجې، ۲.۵ کیلو لوبیا، ۲ کیلو بوره، نیم کیلو چای، د ۱۷ قلمه توکو لرونکې یوه روغتیایي بسته، ۳ عدده صندوقونه، ۳ عدده څراغونه او ۱۰۰ عدده د اوبو د تصفیې ټابلیټونه ووېشل شول.

همدارنګه د دغو مرستو ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او درمان مؤسسې څخه مننه وکړه او مسؤلینو ته یې د خیر دعا وکړې.



## کشف و خنثی‌سازی مواد انفجاری در ولایت سرپل

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سرپل در همکاری با دفتر ماین‌پاکی دافا در آن ولایت، دو قلم مواد انفجاری مختلف‌النوع را کشف و خنثی نمود.

باید گفت که در جریان این عملیات یک فیر سرگلوله توپ دی‌سی و یک فیر سرگلوله هاوان کشف و خنثی گردیده که یکی از مرکز ولایت سرپل و دیگری از ولسوالی سیدآباد به‌دست آمده است.

مسؤلان تأکید می‌کنند که وجود چنین مواد انفجاری تهدید جدی برای جان غیرنظامیان، به ویژه کودکان، محسوب می‌شود. از باشندگان محل خواسته شده است تا در صورت مشاهده اشیای مشکوک، از نزدیک شدن به آن خودداری نموده و موضوع را هرچه عاجل به نهادهای مسئول اطلاع دهند.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۴۱ سیلاب ځپلو کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یونیسیف دفتر په مالي ملاتړ، د دې ولایت د حصارک، خوګیانۍ، پچیراګام، شیرزاد، سرخرود ولسوالیو او جلال اباد ښار اړوند ۸۴۱ سیلاب ځپلو کورنیو ته تر سروې وروسته غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، د حفظ الصحي یو کېټ، د فامیلي توکو یو کېټ، ۱ تخته پلاستیکي فرش او ۱ عدد لاسي جارو ووېشل شول.



## د کابل ولایت په ده‌سبز ولسوالۍ کې د یوه چک‌ډیم د جوړولو کار پیل شو



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د انټرساس مؤسسې ترمنځ د لاسلیک شوې هوکړه‌لیک پر بنسټ، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې مؤسسې په مالي ملاتړ، د ده‌سبز ولسوالۍ د خاص ده‌سبز په کلي کې د یوه چک‌ډیم د جوړولو کار پیل کړ.
د دې پروژې د پرانیستې په مراسمو کې د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوي نجیب‌الله انوري، د ده‌سبز ولسوال محترم حافظ محمد وفا، د کابل ولایت د مقام استازي او د سیمې یو شمېر مشرانو ګډون کړی و.
د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ محترم رئیس د سیمه‌ییزو مسئولینو او خلکو له همکاریو څخه د مننې ترڅنګ وویل، چې نن د داسې یوه چک‌ډیم د جوړولو د چارو د پیل شاهدان یو، چې په بشپړېدو سره به یې د موسمي سېلابونو له ګواښ څخه د ګڼ شمېر هستوګنیزو کورونو او کرنیزو ځمکو ساتنه وشي، سربېره پر دې به د ځمکې لاندې د اوبو سرچینې او د څو چینو اوبه هم پیاوړې شي، نوموړې زیاته کړه، چې دغه چک‌ډیم به ۶۰ متره اوږدوالی، له ۴ تر ۵ مترو لوړوالی او ۲۰ متره پلنوالی ولري.
همداراز د ده‌سبز ولسوال د دغې پروژې له پرانیستې څخه خوښې څرګنده کړه او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د فعالیتونو د ستاینې ترڅنګ یې وویل، چې دغه اداره تل په سختو ورځو کې د خلکو ترڅنګ ولاړه ده او هر وخت چې خلکو مرستې ته اړتیا لرلې ده، لازمې رسېدنې ترسره شوې دي.
په همدې حال کې د سیمې خلکو هم د دې پروژې د چارو له پیل څخه خوښې څرګنده کړه او ویې ویل، چې د دې پروژې پلي کېدل به د هغوی ګڼې ستونزې هوارې کړي.

## د کندهار ولایت په لوړ شاولیکوټ ولسوالۍ کې چاودېدونکي توکي کشف او خنثی شول



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د هیلو ټرسټ ماین پاکۍ مؤسسې د ((IED/IM–۰۹ او IED/IM–۱۰)) ټیمونو په ملاتړ، د یاد ولایت د لوړ شاولیکوټ ولسوالۍ په ادرونیکه او حاجي کریم داد سیمو کې دوه عدده ناچاوده توکي کشف او خنثی کړل.
د یادو عملیاتو په ترځ کې، دوه کړی IED ماینونه کشف او په خوندي توګه له منځه یوړل، چې په خنثی کولو سره یې سیمه پیز وګړي له احتمالي خطرونو څخه خوندي شول.
د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له خلکو غوښتي، چې د هر ډول چاودېدونکو او مشکوکو توکو د لیدلو په صورت کې دې ژر تر ژره له اړوندو مسؤلینو سره اړیکه ونیسي، تر څو پر وخت لازم اقدامات ترسره شي او د احتمالي پېښو مخه ونیول شي.




## د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱،۵۰۰ کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د ورلډویژن موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د فاریاب ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یادې موسسې په همکارۍ د دې ولایت په خواجه سبزپوش ولسوالۍ کې ۱،۵۰۰ مستحقو کورنیو ته له سروې ورسته نغدي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، د ۲،۵۷۵ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال درې میلیونه او اته لکه او دوه شپېته زره او پنځه سوه (۳،۸۶۲،۵۰۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## آغاز کار پاک‌کاری و حفر یک مسیر سیلابی در مرکز ولایت سمنگان

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان، کار پاک‌کاری و حفر مسیر سیلابی را در قریه حسن‌خیل مرکز آن ولایت آغاز کرد. این مسیر در اثر سرازیرشدن سیلاب‌های موسمی سال جاری پُر شده بود.

کار پاک‌سازی و حفر این مسیر سیلابی به طول ۵۰۰ متر و عرض ۱۰ متر آغاز گردیده است.

قابل یادآوری است که با پاک‌کاری و حفر این مسیر سیلابی، بیش از ۲۰۰ خانه مسکونی از خطرات ناشی از سیلاب‌ها مصئون خواهند شد.




## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۶۱ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د RRDPO ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویلوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ د دې ولایت په علیشنګ، علینګار، قرغه یي، دولت شاه او فراشغان ولسوالیو او مرکز مهترلام کې د پېښو له امله ۱۶۱ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړي، ۱۲.۵ کیلو دال او ۱ کیلو مالګه ووېشل شوه.

د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو په ترلاسه کولو سره خوښي وښوده او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د همکارو مؤسسو څخه یې د مرستو پر وخت د وېش په پار مننه او قدرداني وکړه.

## د کابل ولایت په ده سبز او فرزه ولسوالیو کې د اوبو رسوني شبکو د جوړولو او ترمیم کار بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې د لوی رئیس او د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) ترمنځ د همغږۍ له مخې، د یاد سازمان په مالي ملاتړ او د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همکارۍ، د دې ولایت په ده سبز او فرزه ولسوالیو کې د اوبو رسوني شبکو د جوړولو او ترمیم کار بشپړ او رسماً خلکو ته د ګټې اخیستنې لپاره وسپارل شوې.

د ده سبز ولسوالۍ د ترکو کلي د خلکو لپاره چې د څښاک اوبو ته په لاسرسي کې له سختو ستونزو سره مخ وو، د اوبو رسوني په دې پروژه کې، د ۹ متر مکعب اوبو یوه کانکرېټي ذخیره، له فرېم سره د ۶ تختې سولر نصبول، له ۱۳۰ متره پایپ سره د ۲ کیلو واټ آببازک نصبولو سره د اوبو رسوني یوه شبکه جوړه شوه او د څښاک اوبو ته د لاسرسي په برخه کې د ۵۰ کورنیو ستونزه په بشپړه توګه حل شوه.

همداراز، د فرزه ولسوالۍ په قلعه کریم کلي کې د ابو رسوني شبکه چې د تېرو طبیعي پېښو له امله زیانمنه شوې وه، د ترمیم کارېې بشپړ شو، چې په پایله کې یې د څښاک اوبو ته د لاسرسي په برخه کې د یاد کلي د ۴۰ کورنیو ستونزه حل شوه.

د یادو ولسوالیو خلکو د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د IOM سازمان له لوري د دې پروژې د کار بشپړولو په پار منننه او قدرداني وکړه.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۲۱ زیانمنو کورنیو ته نغدي، خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له خپلو امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې او د ډنمارک د کډوالو شورا (DRC) او د ماشومانو د ساتنې موسسې په ملاتړ، د یاد ولایت اړوند ۲۲۱ زیانمنو کورنیو ته، چې د طبیعي او غیرې طبیعي پېښو له امله زیانمنې شوې وې، تر سروې وروسته نغدي، خوراکي او غیري خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له لوري، ۳۱ کورنیو هرې یوې ته، ۲ بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، ۲ عدده څراغونه، ۲ عدده صندوقونه او له یادې جملې ۴ کورنیو هرې یوې ته یو باب خیمه هم ووېشل شوه، همدارنګه د ماشومانو د ساتنې موسسې له لوري ۱۸۱ کورنیو هرې یوې ته ۱ هایجن کېټ او د DRC موسسې له لوري ۹ کورنیو هرې یوې ته له ۱۳،۰۰۰ څخه تر ۱۸،۵۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې د نغدو مرستو ټولیزه اندازه یو لک او اته دیرش زره او پنځه سوه (۱۳۸،۵۰۰) افغانۍ کېږي.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۳۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت اړوند ۱۳۰ کورنیو ته چې د وروستیو بارانونو او سیلابونو له امله زیانمنې شوي وې، تر سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱۰۰ کیلو اوړه، ۳ تختې کمپلې، یو عدد سطل او یو فامیلي هایجن کېټ ووېشل شول.

د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، مولوي نثار احمد نجات وویل، چې هڅه کوو څو د زیانمنو کورنیو ستونزو ته پر وخت رسېدنه وکړو او د هغوی لپاره لا زیاتې مرستې برابرې کړو.



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر، برای ۵۴ خانواده سیلاب‌زده کمک‌های نقدی و مواد غیرغذایی توزیع نمود




بر اساس هماهنگی رئیس عمومی اداره آمادگی مبارزه با حوادث با دفاتر IOM، WFP و UNICEF، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر با هماهنگی با دفاتر متذکره، برای ۵۴ خانواده که از اثر سیلاب‌های اخیر در ولسوالی‌های محمدآغه و ازره، کمک‌های نقدی و مواد غیرغذایی توزیع نمود.

در این روند با حضور مسؤلان، از طرف سازمان جهانی غذا (WFP)، به هر خانواده مبلغ ۵۸۰۰ افغانی، از طرف UNICEF به هر خانواده یک بسته البسه و از طرف سازمان بین‌المللی مهاجرت (IOM)، به هر خانواده ۳ تخته کمپل و ۲ تخته سولر توزیع کرده و برای دو خانواده که منازل‌شان به صورت کلی تخریب شده بود به هر کدام یک باب خیمه توزیع گردید.

گفتنی است که سازمان جهانی غذا (WFP)، برای ۳۸ خانواده آسیب‌دیده از سیلاب در مرکز وللایت و ولسوالی‌های خوشی و محمدآغه که در ماه حمل‌سال روان آسیب دیده بودند، برای بار دوم به هر خانواده مبلغ ۵۸۰۰ افغانی توزیع گردید.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر برای ۱۳۰ خانواده مستحق مساعدت مواد خوراکی و غیرخوراکی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر، برای ۱۳۰ خانواده شامل مستحقین، مهاجرین و کارگران پروژه‌های عام‌المنفعه در ولسوالی‌های عنابه، رخه، شتل، دره و مرکز ولایت، مواد خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود.

این روند با حضور مسؤلان، به هر خانواده یک بوری گندم و یک بسته صحی توزیع گردید.

## په فراه ولایت کې یو شمېر چاودېدونکي توکي کشف او خنثی شول



د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې ریاست د همغږۍ پر بنسټ، دDRC موسسې د ماین‌پاکۍ تخنیکي ټیم د یاد ولایت په مرکز او یو شمېر ولسوالیو کې یو شمېر ناچاوده توکي کشف او په خوندي ډول خنثی کړل.

ویل کېږي چې په دې عملیاتو کې ۳ فیره د ۷۵ ملي‌متره توپ مرمۍ، ۲ فیره د ۷۵ ملي‌متره راکټ مرمۍ او ۱ فیر د ۸۲ ملي‌متره هاوان مرمۍ له بېلابېلو سیمو کشف او خنثی شوي دي.

د یاد ریاست مسؤلینو د دې عملیاتو موخه د هېوادوالو لپاره د خوندیتوب رامنځته کول او د ناچاوده توکو له خطرونو د خلکو ژغورل بللي او د سیمې له اوسېدونکو یې غوښتنه کړې چې د شکمنو توکو د لیدو په صورت کې سمدستي اړوندو ادارو ته خبر ورکړي.

## ریاست آمادگی مبارزه باحوادث ولایت بامیان برای ۵۰ خانواده آسیب‌دیده مواد غذایی و غیر غذایی توزیع نمود

ریاست آمادگی مبارزه باحوادث ولایت بامیان، برای ۵۰ خانواده آسیب‌دیده که از اثر بارندگی‌های اخیر منازل‌شان به‌طور کلی و قسمی تخریب گردیده بود، بعد از سروی مواد غذایی وغیر غذایی توزیع کرد.

در این پروسه با حضور مسؤلان، به هر خانواده ۲ بوری گندم ۵۰ کیلویی، یک بسته صحی، یک عدد چراغ برق و یک جوره چپلک پلاستیکی توزیع گردید.







## د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۳ سیلاب ځپلو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په مرکز ایبک او حضرت سلطان ولسوالۍ کې ۸۳ سیلاب ځپلو کورنیو ته تر سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲ بورۍ غنم ووېشل شول.

# عامه پیغامونه:

۱۲. د خپل توان او طاقت سره سم اوبه مدیریت او مهار کړئ ترڅو د سیلاب او وچکالۍ د خطرونو څخه ځانونه او مالونه وژغورئ

۱۳. داحتمالي سیلاب راوتلو په سیمو کې د ودانیو له جوړولو څخه ډډه وکړئ

۱۴. د سیلاب زور او قوت ته په کمه سترګه مه ګورئ